هفته‌نامه
آبادي اوونيزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
شنبه، د ذوالقعدې ۱۷مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۷
مسلسل نمبر: ۵۰#
دریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو رياست




د افغانستان او ايران ترمنځ د اړيکو مخينه ډېره اوږده ده او په دې اوږده مخينه کې د دواړو ګاونډيو هېوادونو اړيکې دوستانه پاتې شوې دي. په افغانستان کې وروستی تحول، واک ته د اسلامي امارت رسېدل او له دې هېواده د اشغال د ټغر په ټولېدو سره په لومړيو کې د سيمې، ګاونډي هېوادونه په ځانګړي ډول ايران له دې امله انديښمن و، چې اسلامي امارت به څه ډول بهرنۍ سياست غوره کړي. خو کله چې اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سياست اعلان وکړ، نو يادو هېوادونو يې هرکلی وکړ او پر همدې بنسټ له اسلامي امارت سره تعامل ته راوړاندې شول.

ايران په کابل کې خپل سفارت پرانيست او په لويو ښارونو کې يې کونسلګرۍ فعالې کړې، چې دا د دواړو هېوادونو د سياسي اړيکو د پراختيا ښکارندويي کوي. دغه راز ايران په خپله خاوره کې افغان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره او همدا اوس په ايران کې د افغانستان سفارت چارې پرمخ روانې دي او هلته مېشت افغان کډوالو ته خدمات وړاندې کوي. د سياسي اړيکو پراخېدو د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړيکو پراختيا ته هم زمينه برابره کړه. په دې لړ کې د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په ۱۴۰۲ لمريز کال کې ايران ته سفر وکړ. په دې سفر کې نوموړي له ايراني چارواکو سره د دوه اړخيزو سياسي اړيکو د پراختيا ترڅنګ پر اقتصادي اړيکو هم خبرې وکړې. اوس مهال چې د ايران ولسمشر په يوه هوايي پېښه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، د فاتحې په مراسمو د ګډون په موخه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ يو لوړ پوړی امارتي پلاوی ايران ته ولاړ. دغه راز ايراني لوړ پوړي پلاوي هم کابل ته راغلي او دا يې په ډاګه کړې ده، چې له افغانستان سره سياسي او هم اقتصادي تعامل غواړي.

نو ويلای شو چې نړۍ د انسانانو د ژوند ګډ کور او کلی دی، په دې کور او کلي کې په يوازې ځان پرمختګونه ناشوني دي. اوسمهال د افغانستان او ايران ترمنځ د اړيکو د لا پياوړتيا له پاره زمينه برابره ده. دا مهال افغانستان نه يوازې د ګاونډيو بلکې د نړۍ له پاره د رسميت پېژندنې او نيک تعامل جوګه دی. هغه خنډونه چې نړۍ، ګاونډي او د سيمې هېوادونه ترې په ډار کې و، نشته او له منځه تللي دي. د افغانستان خاوره د هېچا په ضرر نه ده، اسلامي امارت د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوي، بهرنۍ سياست يې ناپېيلی او متوازن دی. همدې لاملونو ته په کتو د سيمې، ګاونډ او د نړۍ نور هېوادونه کولای شي له اسلامي امارت سره سياسي او اقتصادي اړيکي ټينګې کړي. د افغانستان او ايران ترمنځ د اړيکو پراختيا نه يوازې د افغانستان بلکې د ايران په ګټه هم ده. ايران کولای شي په افغانستان کې د کانونو، کرنې، ترانسپورټ، سوداګرۍ او صنعت په برخه کې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته او افغانستان بيا د ايران له لارې بحر ته ځان ورسوي او خپله سوداګري پراخه کړي.

## محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با معاون وزیر امور خارجه قطر دیدار نمود



۲ مه صفحه

## د حيرتان بندر اړونـد نايب آباد سټېشن کې پر نړيوالو معيارونو برابر سوداګريز مرکز جوړېږي



۲ مه صفحه

## د افغانستان اسلامي امارت او ايران اقتصادي اړيکي



۴ مه صفحه

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با معاون وزیر امور خارجه قطر دیدار نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء سوم جوزا 1403 خورشیدی با محمد بن عبدالعزیز آلخلیفی معاون وزیر امور خارجه قطر در دفتر کارش دیدار و گفتگو نمود. در این دیدار هر دو طرف روی روابط سیاسی، اقتصادی و تجارتی بحث نمود.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء از همکاری قطر با افغانستان در زمینه های گوناگون سپاسگزاری نموده گفت که این روابط هر چه بیشتر گسترش و تقویت یابد. محترم ملا صاحب افزود که در حال حاضر فرصت های سرمایه گذاری در افغانستان وجود دارد و سرمایه گذاران قطری می توانند در اینجا در بخش های مختلف سرمایه گذاری نمایند. به گفته محترم ملا صاحب، امارت اسلامی تسهیلات لازم را برای سرمایه گذاران خارجی مهیا و به طور کامل از آنها حمایت می کند.

معاون وزیر امور خارجه قطر طی سخنانی خویش گفت، آنها سرمایه گذاران این کشور را به سرمایه گذاری در افغانستان تشویق خواهند کرد و به همین منظور سرمایه گذاران قطری در آینده نزدیک به کابل خواهند آمد.

محمد بن عبدالعزیز الخلیفی افزود، آنها با خطوط هوایی بین المللی قطر از نزدیک کار می کند تا طبق یک میکانیزم منظم پروازهای خویش را به افغانستان آغاز و تقویت روابط تجارتی میان دو کشور افزایش دهند.

وی خواستار شرکت نماینده امارت اسلامی در سومین نشست نمایندگان ویژه افغانستان در دوحه شد و افزود، قطر علاقمند است که در حضور داشت نماینده امارت اسلامی سومین نشست دوحه به نتیجه مطلوب خواهد رسید. وی افزود که بدون نماینده امارت اسلامی چنین جلساتی بی نتیجه بوده و در این زمینه موضع خود را به سازمان ملل متحد روشن نموده است.

معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، امارت اسلامی خواستار روابط گسترده سیاسی-اقتصادی با همه کشورها است و با اتخاذ این سیاست به تعامل دوجانبه رو آورده است. محترم ملاصاحب تاکید نمود که بدون نماینده امارت اسلامی کنفرانس بین المللی در مورد افغانستان به هیچ نتیجه ای نمی رسد. بنابراین لازم است در این گونه جلسات به موقف امارت اسلامی احترام گذاشته شود.

# د حیرتان بنـــدر اړوند نایب آباد سټېشن کې پر نړیوالـــو معیارونو برابر سوداګریز مرکز جوړېږي



د پانګونـې بین‌الـوزارتي کمېټي نوبتـي غونډې ته چې د روان 1403 لمریز کال د غبرګولي میاشتې په لومړۍ نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شـوې وه، د خصوصي سکټور لـه لوري د حیرتان بنـدر اړوند نایب آباد سټېشـن کې پر نړیوالو معیارونو د برابر سـوداګریز مرکز، جلال آباد بنـار کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو او یوشمېر نورو برخو کې د پانګونـې طرحې د بحـث لپاره وړاندې شـوې. په دغه غونډه کې د خصوصي سـکټور له لـوري د حیرتان بندر د نایب اباد سټېشـن د پراختیا او هلته د لوجستیکي مرکز د جوړولـو پر موضوع تفصیلي بحث وشـو. همداراز په یاده غونډه کې تر هراړخیز بحث وروسـته د جلال آباد ښار وچ ډنډ ساحه کې د ښاروالۍ پر څمکه د شپږ پوړیز سوداګریز مارکېـټ جوړولو طرحه تایید او د منظورۍ لپاره اقتصادي کمېسـیون ته واسـتول شـوه. د دغه طرحې له مخې به خصوصي سـکټور د 269 میلیونو افغانیو په پانګونې سره اووه پوړیز سـوداګریز مارکېټ جوړوي، چې ټولټال پکې 506 دوکانونه به پام کې نیول شوي.

## د ۱.۱.۱ د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په مشرۍ لوړ رتبه امارتي پلاوي د ايران اســـلامي جمهوريت د جمهور رئيس د فاتحې په مراسمو کې ګډون وکړ



د محترم ملا عبدالغني برادر آخوند په مشرۍ لوړپوړي امارتي پلاوي، چې د بهرنيو چارو وزير محترم مولوي اميرخان متقي يې ملتيا کوله د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د جوزا مياشتې په دوهمه نېټه د ايران اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس سيد ابراهيم رئيسي او بهرنيو چارو وزير حسين امير عبداللهيان د فاتحې په مراسمو کې ګډون وکړ. د اسلامي امارت پلاوي د ايران اسلامي جمهوريت له نوي سرپرست ولسمشر دکتور محمد مخبر، بهرنيو چارو وزير علي باقري او پوځ له مرستيال سره هم وکتل او د افغانستان د خلکو او اسلامي امارت په استازولۍ يې له ايران سره ځان په غم کې شريک وباله او د ايران حکومتي مسوولينو او ولس ته يې د همدردۍ او تسليت مراتب وړاندې کړل.

## استراتیژی خودکفایی در بخش تولید گندم مورد بحث قرار گرفت

جلسهٔ نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی که بتاریخ ۳۱ ام ثور ۱۴۰۳ خورشیدی در قصر مرمرین تدویر گردیده بود طبق اجندا روی یک سلسله موضوعات بحث صورت گرفت. به نشست یاد شده در کنار سایر موضوعات، استراتیژی خودکفایي در بخش تولید گندم به نشست ارائه شد که بعد از بحث همه جانبه مورد قناعت کمیته یاد شده قرار گرفت و جهت تائیدی به کمیسیون اقتصادی ارسال گردید. این استراتیژی جهت تقویت اقتصاد ملی و مصؤنیت غذایی کشور تدوین گردیده که با تطبیق آن سطح تولید گندم افزایش یافته و در کیفیت آن بهبود قابل توجه به وجود خواهد آمد.




## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۷۱,۴۵ | ؋۷۱,۴۸ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۷ | ؋۲۴۷ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۳۰ | ؋۱,۳۰ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۷,۶۲ | ؋۷۷,۶۵ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۷۸ | ؋۰,۷۸ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۵۹ | ؋۸۶۰ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۹۱,۱۴ | ؋۹۱,۱۸ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۹,۰۵ | ؋۱۹,۰۶ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۴۵ | ؋۱۹,۴۶ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۸۷ | ؋۹,۸۷ |



# د افغانستان اسلامي امارت او ایران اقتصادي اړیکې

لیکوال: امان‌الله «حنیفي»



## سریزه

هغه مهال چې اسلامي امارت په افغانستان کې واک ته ورسېد، ګاونډیو، سیمې او د نړۍ هېوادونو ته یې په ډېر واضح ډول وویل، چې د افغانستان بهرنی سیاست بې طرفه او اقتصادي اړخ لري او د خپلو دیني او ملي ارزښتونو په پام کې نیولو سره له ټولو هېوادونو سره دوه اړخیز تعامل ته را وړاندې شوی دی. د بې طرفه اقتصاد محوره بهرني سیاست په غوره کولو سره اسلامي امارت له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو دروازې پرانیستې او په دې توګه هغوی په ځانګړې توګه ګاونډیو ته ښه فرصت برابر شو، څو د خپلو اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره ترې استفاده وکړي. د اسلامي امارت له لوري د خپل بهرني سیاست له په ډاګه کولو وروسته ډېرو هېوادونو له افغانستان سره سیاسي – اقتصادي تعامل ته راوړاندې شول، چې له دې ډلې یو هم ایران و. ایراني چارواکو په واضح ډول وویل چې دوی د اسلامي امارت مخالفینو ته په دغه هېواد کې د فعالیت اجازه نه ورکوي او چمتو دي، چې له افغانستان سره خپلې اړیکې پراخې او په ځانګړې توګه سوداګري زیاته کړي. د همدغو سیاستونو په غوره کېدو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه چې په لومړیو وختونو کې کمه شوې وه، اوسمهال بېرته عادي حالت ته راګرځېدلې او د پراختیا لپاره یې دواړو لورو اساسي ګامونه پورته کړي دي. دا چې واک ته د اسلامي امارت له رسېدو را وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړیکو او سوداګرۍ کچې د زیاتوالي په برخه کې کوم ګامونه اخیستل شوي او په دغه برخه کې څومره اسانتیاوې رامنځته شوي دي؛ موږ په همدې مقاله کې پرې لنډې خبرې کوو.

## د افغانستان – ایران اقتصادي اړیکې

د شل کلن امریکایي اشغال پر مهال د دواړو هېوادونو سوداګریزې اړیکې د سوداګرۍ د اړینو توکو لکه: نفتو، ګازو، ساختماني توکو، درملو او طبي تجهیزاتو، خوراکي توکو، وچو او تازه میوو او داسې نورو په کچه وې او په اساسي برخو کې د دواړو هېوادونو ترمنځ کوم پرمختګ نه تر سترګو کېده. خو واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره نه یوازې دا چې د دواړو لورو ترمنځ د یادو توکو په برخه کې د سوداګرۍ کچه شاوخوا دوه میلیارد ډالرو ته ورسېده؛ بلکې پر دې سربېره په مهمو اقتصادي برخو کې دواړه هېوادونه نوي تعامل ته ننوتل.

نوي تعامل ته د ننوتلو لپاره لومړنی او اساسي شرط امنیت و چې لله الحمد اوسمهال په افغانستان کې سرتاسري امنیت ټینګ شوی دی. ډاډمن امنیت پانګوالو ته دا جرأت ورکوي او هم یې دې ته لیواله کوي چې په افغانستان کې سترو پانګونو ته زړه ښه کړي. د تېرو شلو کلونو پر مهال ایران نشو کولای چې د افغانستان په کانونو او زېربنا کې پانګونه وکړي. خو د اسلامي امارت په لاس د امریکایي اشغال خاتمې د نړۍ نورو هېوادونو سربېره ایران ته دا فرصت برابر کړ څو دلته په مهمو برخو کې پانګونې ته زړه ښه کړي. ایران د اسلامي امارت له لوري په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې د اسانتیاوو په رامنځته کېدو سره د کانونو په برخه کې پانګونې ته زړه ښه کړ او د آزادي داوطلبۍ له لارې یې د هرات غوریانو اوسپنې کان ګټلـــی. ایرانـــي پانګـــوال په ډېرې لېوالتیا سره غواړي چې د افغانستان په مختلفو کانونو کې پانګونه وکړي او د اسلامي امارت له لوري هم ډاډ ورکړل شوی دی، چې اړینې اسانتیاوې به ورته برابروي.

د دې ترڅنګ ایران په افغانستان کې د زېربنایي پروژو د تطبیق په برخه کې هم را وړاندې شو، چې ښه بېلګه یې د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ د پاتې چارو تکمیلول دي. واک ته د اسلامي امارت له رسېدو را وروسته د دواړو هېوادونو په همغږۍ د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ شبکې پاتې چارې په خورا چټکۍ سره رواني دي، چې په نږدې راتلونکې کې به دغه شبکه بشپړه او له دې لارې به د دواړو هېوادونو ترمنځ د انتقالاتو کچه څو برابره زیاته شي.

له ایران سره د سوداګریزو او ترانزیټي اړیکو د پراخولو په موخه د ایران په رسمي بلنه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د 1402 لمریز کال د عقرب میاشتې په 13مه نېټه تهران ته سفر وکړ او هلته یې د بېلابېلو برخو له لوړپوړو مسوولینو سره وکتل. د دغه سفر پر مهال د صادراتو او وارداتو لپاره د اسانتیاوو پر

رامنځته کولو، د واخان دهلېز له لارې له چين سره د ايران پر وصل، د افغانستان له لارې له ازبېکستان سره د ايران نښلول، کندهار ته د اوسپنې پټلۍ شبکو رسول، د نشه يي توکو له توليد او قاچاق سره د مبارزې او افغان بزګرانو ته د بديل معيشت او کښت د برابرولو په برخه کې د ګډو هڅو په اړه د دواړو خواوو هوکړه او ټينګار، د دواړو لورو له طرفه د ګمرکونو کاري وخت 24 ساعتونو ته زياتول، د دواړو خواوو څخه د پيسو د ورکړې معافيت، له ايران سره د سوداګرۍ د توازن په اړه توافق او په دې برخه کې د عملي ګامونو پورته کول، پر ځينو افغان صادراتي توکو د ترجيحي تعرفو لګول او يو لړ نورو مسايلو په اړه تفاهمنامې لاسليک شوې. د همدغه سفر پر مهال ايران بشپړ چمتووالی وښود چې افغانستان کولای شي د صادراتو، وارداتو او همدا راز ترانزيټ په موخه له چابهار بندر استفاده وکړي. له هغه را وروسته افغان سوداګرو چابهار بندر ته توجه زياته کړه او اوسمهال خپل ډېرې مالونه د دغه بندر له لارې په کم وخت او لږ لګښت سره انتقالوي، چې دې چارې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ کچه زياته کړې ده.

ايران چمتو دی چې له افغانستان سره خپله سوداګري 10 ميليارد ډالرو ته لوړه کړي. په همدې تړاو د افغانستان په چارو کې د ايران د ولسمشر د ځانګړي استازي سلاکار ويلي دي چې د افغانستان په اړه د ايران اقتصادي ستراتيژي دا ده چې له دربيو تر پنځو کلونو پورې دوه اړخيزه سوداګري لس ملياره ډالرو ته لوړه کړي او په دې برخه کې لندمهاله او اوږد مهاله کړنې په نظر کې نيول شوې دي .

ايران کولای شي د افغانستان له لارې د منځنۍ اسيا هېوادونو او په ځانګړې توګه چين ته لاسرسی پيدا کړي. که څه هم ايران اوسمهال د ترکمنستان له لارې منځنۍ اسيا او چين ته لاسرسی لري، خو د افغانستان له لارې بيا ايران کولای شي په مستقيم ډول ازبېکستان او تاجکستان ته لار پيدا کړي. د واخان دهليز د بشپړېدو په صورت کې هم ايران کولای شي د لنډې فاصلې په وهلو سره ځان له چين سره ونښلوي. د واخان دهليز د جوړولو لپاره اسلامي امارت هڅې پيل کړې دي او تمه کېږي چې په ټاکلي وخت به يې کارونه بشپړ شي.



## پایله

د افغانستان او ايران د اړيکو شاليد او شته فرصتونو ته په کتو سره دواړه هېوادونه ښه اقتصادي شريکان جوړېدای شي. واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره دا فرصتونه له خيال په حقيقت بدل شوي دي او په ډېرو برخو کې چې مونږ يې پورته يادونه وکړه، لکه، د کانونو برخه کې د ايران پانګونه، په زېربنايي پروژو کې د ايران ښکېلتيا، د سوداګرۍ او ترانزيټ په موخه د ايران له سمندري بندرونو د افغانستان استفاده، د ترانزيټ په موخه د افغانستان په خاوره کې د اوسپنې پټلۍ شبکو غځول، په مختلفو برخو کې د دواړو لورو ګډ کار کول او يوشمېر نورو برخو کې پرمختګونه شوي دي او تمه ده، چې د متوازن بېلانس په نظر کې نيولو سره د سوداګرۍ کچه ټاکل‌شوې اندازې ته ورسېږي.

